afghanistan justice archive



د افغانستان اسلامي امارت

دافغانستان اسلامي امارت

دکورنیوچاروو زارت

د خوست ولایت امنیه قوماندانی

د جنایي جرمونو پر وراندی د مبارزې ع مدیریت

د تحلیل ارزیابی امریت

دافغانستان اسلامي امارت

نیته ۱۲ / ۸ / ۱۴۴۵

ع ۴۴۳ / ۸۰۰

د خوست ولایت د اطلاعاتو او کلتور محترم ریاست ته !

اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته :

دا چه خوست ولایت یو سرحدي او کڼ نفوسه ولایت دی چه ډیری خلک بی تعلیم یافته او باسواده دي له همدغې سببه زیات شمیر راډیوګانی او تیلویزونونه پکی فعالیت کوی .چه په همدغه ولایت کی د ځینو راډیوګانو څخه اخلاقی فساد ته لمن وهل کیږی .چه ښه مثال یی د ځینو راډیوګانو څخه ددرسي او نورو تولنیزو خپرونو خپرول دي چه په دغه درسی او تولنیزو خپرونو کی زیات تعداد نجونی برخه لري.خو د همدغه درسي او تولنیزو خپرونو څخه په سؤ استفاده په رسمي او غیر رسمی وخت کی نجونی د خپرونی مسؤلینو سره تیلیفونی نامشروع اړیکی نیسی.داچې زموږ دافغانستان اوبالخصوص دخوست یوه مسلمانه . پښتاني، کلتوري او فرهنګي تولنه ده نو له همدغې وجهې دغه تیلیفونی اړیکی له یوی خوا تولنه د اخلاقی فساد په لوری هڅوی او له بلی خوا د اسلامی شریعیت سره په ټکر کی راځی .نو د دی لپاره چه د خپل قوم .کلی او سیمی پت او عزت مو ساتلی وی .باید په هردول خپرونو له انجونوسره له تلیفوني ارتباط څخه ډډه وشي او بلې خوا نوموړی میډیاوی ددرسي خپرونو لپاره د پوهنی ریاست لخوا رسمی جوازونه نه لری او همدارنګه زموږ اداری د معلوماتو په نظر کی نیولو سره چه اکثره واقعات له همدغه طریقه صورت نیسی، د دی لپاره چه د جنایي واقعاتو مخنیوی وشی او هم د اخلاقی فساد د واقعاتو کراف ټیټ شی .او مخکې له دې چه د میډیاوو مسؤلین زمونږ اداری لخوا احضارشي .بناً ستاسو محترم ریاست څخه هیله کوو چه د خپله طریقه اړوند میډیاوی د دعسی ناوړه کړنو د مخنیوی پخاطر د خپل وظیفوی صلاحیت او مسؤلیت له رویه په جریان کی کړی . تر څو ورستنی کوم ډول قانونی کړنی چه په نظر کی دی ترسرد شی .

په درنښت

دخوست ولایت امنیه قوماندان

الحاج حافظ عبدالرشید «عمری»

دافغانستان اسلامي امارت
د کورنیو چارو وزارت
۱۴۴۵ هـ ق
۱۴۰۲ هـ ش
د خوست ولایت امنیه قوماندانی
د دفتر امریت
۲۱-۱

کاپی :-

د خوست ولایت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر محترم ریاست ته ع ـــــــ

AFJC